# دولت د"گندم" پرځای"کنډوم "وېشي!

عبد الفتاح جواد

ولسمشر کرزي د یوه فرمان په صادرولو سره د اداري فساد پر ضد د مبارزې د ستراتیژۍ د څارلو په موخه د یوې نوې ادارې د جوړولو اعلان کړی چې دغه اداره به د دولت په ټولو ادارو او سطوحو کې د بډو، رشوتونو او فساد مخه نیسي دا پداسې حال کې ده چې د کرزي اداره په هیواد کې د ننه او بهر د اداري فساد له امله تر سختو نیوکو لاندې ده، د تیرو پنځو کلونو راهیسې دولت د اداري فساد پر ضد کمیسیونونه او اداري جوړوي، لوی څارنوال یې پرضد جهاد هم اعلان کړی دی مګر دغه " وهنې" او " پټونې" ورځ تربلې مخ په زیاتیدو دي.

که څه هم ځینې کارپوهان پدې اند دي چې د دولت د مامورینو د معاشونو کموالی او د بهرنیو مرستو په راجلبولو کې د دولت کمزوري د دغې ستونزې عمده لاملونه دي اما دا هم باید له یاده ونباسو چې دغه فساد یوازې په ټیټه کچه نه بلکې په لوړه سطحه هم موجود دی، هغه لوړ پوړي چارواکي چې د لوړو معاشونو او حقوقو ترڅنګ د دسترخوان او میلمه پالنې په نوم هم پیسې اخلي په دغه رنځ اخته دي او ان ځینې کتونکي خو پدې اند دي چې یو شمیر ادارې د "مافیا" منګولوته ورغلې دي او هغوی د خپل اداري واك نه په ګټې اخیستلو سره د ولس وینې زبیښي.

په هر صورت د تیر په خیر بیا هم تمه نشته چې ولسمشر کرزی دې پدې ماته او ګوډه اداره وتوانیږي د فساد پرضد ګامونه واخلي ځکه چې په دولت کې داسې خلك نه ترسترګو کیږي چې د مسئولیت احساس، دآخرت ویره او ملت ته د خدمت جذبه ولري، وایي چې په یوه ورځپاڼه کې به ډیرې زیاتې املایي او چاپي غلطۍ وې نولوستونکو به یې چلوونکي ته د تیلفون له لارې شکایتونه کول کله چې تیلفونونه زیات شول نو د ورځپاڼې چلوونکی وارخطا شو او ټول اداري پرسونل او همکاران یې راټول کړل او د املایي غلطیو په اړه یې د خلکو له شکایتونو نه سروټکاوه، نو یوه همکار ورته وړاندیزوکړ چې که د ورځپاڼې د چلوونکي د تیلفون نمره هم غلطه  ولیکو نو د لوستونکو له شکایتونو څخه به خلاص شو. ولسمشر کرزي ته به هم مناسبه داوي چې که اداري فساد نشي ختمولی نو د " افغانستان اسلامي جمهوریت" نوم" د بډو او رشوتونو په جمهوریت" واړوي.

## که غله نشته، کنډوم خو شته

د افغانستان د روغتیا وزارت د جنسي اړیکو د خوندیتوب، او په ایډز  د وګړو د نه اخته کیدو په موخه په ملیونونو کنډومونه ( پوکانۍ) بازار ته راویستلي دي څو یې په مناسب او ارزانه نرخ خلك ترلاسه کړي، دغه کنډومونه د نړیوالو روغتیایي ادارو په مرسته رانیول شوې دي، روغتیایي چارواکي وایي چې د پوکانۍ نه د ښې ګټې اخیستنې د پوهاوي لپاره بیلابیلو سیموته کاري ډلې استوي، دا پداسې حال کې ده چې د روغتیا د اداري د څیړنو پر اساس په افغانستان کې د ایډز (3000) پیښې ثبت شوې دي.

ډیره په زړه پورې ده چې په دې وروستیو څو میاشتو کې ولس د خوراکي موادو له کمښت او  نرخونو له دوه او درې چنده لوړیدلو ستونزې سره مخ وو او دا هیله یې لرله چې دولت به پدې اړه ځانګړي او بیړني ګامونه پورته کړي ترڅو نرخونه راښکته شي او د" ګندم" " غنمو" له زیاتیدو سره به د خوراکي موادو نرخونه هم کنترول شي،خو دولت ددې پرځای چې" ګندم" رازیات کړي او په ارزانه بیه یې بازار ته وړاندې کړي" کاندوم" یې په غټه پیمانه بازار ته راوویست څو په نس وږي خلك ترې د جنسي اړیکو پر مهال ګټه واخلي!.

د دولت دغه کار چې په طبیعي توګه د نړیوالو ادارو د فشار له امله یې کړی د اخلاقي فساد عاملو ته زمینه جوړوي ځکه ددې به معنا داوي چې که د " کنډوم" په کارولو سره زنا او اخلاقي فساد روان وي نو پروا نلري ځکه چې د ایډز نه خو خوندي دي.

لویدیځوال چې د لسیزونه " کنډمونه" استعمالوي مګر بیا هم د ایډز په مخنیوي کې پاتې راغلي دي نو زمونږ په وطن کې چې د انجوګانو له لارې د ښځو او نرو اختلاط او ګډ کار په وسیله  ناروا جنسي اړیکو ته زمینه برابریږي او د رسینیو له لارې ( مبتذلو سریالونو  خپرولو سره د حیا او عفت پردې څیرول کیږي او د رستورانونو او **Guest House**   له لارې د چینایي نجونو سودا روانه وي " کنډوم" څه کولی شي.

دولت باید د خپل ولس د عقیدې، کلتور او ارزښتونو د ساتلو برنامه ولري، نه دا چې د لویدیځ ناولي کلتور ته زمینې جوړوي، ځکه چې دغه ډول کارونه ښې پایلې نه شي لرلی.

اقتباس :  د دعوت له وزین سایت څخه